# د افغانستان بانک

## د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدماتو لوی آمریت

## د متعارف بانک څخه اسلامي بانک ته د بدلون لارښود

۱۴۴۳/۱۱/۱۹

1401/03/29

لړلیک


۱ .قانوني مبنې: ............ ۳
۲.موخه: ............ ۳
۳.د تطبیق ساحه: ............ ۳
۴.د بدلون د مخه اقدامات: ............ ۳
۵. د بدلون پلان تهیه کول: ............ ۳
۶.د بدلون د پلان برخې: ............ ۳
۱.۶ د بانک اړوند اړین معلومات: ............ ۳
۲.۶ د شرعي اصولو سره په نقض کې د اقلامو وضعیت او د هغوی حل لارې: ............ ۳
۳.۶ روزنه او ظرفیت لوړونه............ ۳
۴.۶ پالیسي، کړنلارې او محصولات:............ ۳
۵.۶ سیستم او کنټرول: ............ ۳
۶.۶ پلټنه او بیا کتنه: ............ ۳
۷.۶ د عامه پوهاوي او بازار موندنې ترتیبات:............ ۳
۸.۶ نور ضروري معلومات:............ ۳
۷. د افغانستان بانک اصولي موافقه:............ ۵
۸. د بدلون پلان پلي کول:............ ۵
۹.د بشپړ اسلامي بانکوالۍ جواز صادرول: ............ ۶
۱۰.متفرقه مواد ............ ۶

## 1 . قانوني مبنې:

اسلامي بانک ته د متعارف بانک د بدلون دغه لارښود د افغانستان بانک ته د ورکړل شوي واک له مخې د افغانستان د بانکدارۍ قانون د ۱۷۷ او ۸۹ مادو او د افغانستان د اسلامي امارت د کابینې د ۱۵مې ګڼې او ۱۴۴۳/۰۵/۱۶ - ۱۴۰۰/۰۹/۲۹نیټې د پرېکړې په اساس صادر شوی دی.

## ۲. موخه:

د افغانستان بانک د اسلامي بانکدارۍ د قانوني او مقرراتي چوکاټ د جوړولو له لارې په افغانستان کې د متعارف بانکي سیستم بدلون او د اسلامي بانکدارۍ او تمویل ودې ته ژمن دی. د دې لارښود له لارې د افغانستان بانک، د موجوده متعارفو بانکونو د بشپړه اسلامي کیدو لپاره د لازمو اقداماتو، د بدلون له مرحلو او د بدلون د پلان د تهیې او تطبیق په اړه تفصیلات وړاندې کوي.

## ۳. د تطبیق ساحه:

دا لارښود په ټولو متعارفو بانکو( که داسلامي بانکدارۍ برخه لري یا یې نلري) او د بهرنیو متعارفو بانکو پر فروعو باندې د تطبیق وړ دی.

## ۴.د بدلون د مخه اقدامات

۱.۴ټول بانکونه باید په فوري توګه هر ډول غیر شرعي بانکي کړنې بندې کړي.
۲.۴ ټول بانکونه باید اسلامي بانکوالۍ ته د بدلون لپاره د خپلو ونډه والو او د نظار هیئت منظوري ترلاسه کړي.
۳.۴ ټول بانکونه باید د بدلون د پروسې د اسانتیا او لارښوونې لپاره د شرعي چارو آمریت او د شرعي هیئت/بورډ رامنځ ته کړي.
۴.۴ د سوداګریزو کړنو او د بدلون د پروسې د ښه پرمخ بیولو په موخه ټول بانکونه باید د نظار هیئت په تصویب د بدلون یوه با صلاحیته کمیټه رامنځ ته کړي.
۵.۴ ټول بانکونه باید د خپلو کارمندانو او په ځانګړې توګه د روزونکو د روزنې او ظرفیت لوړونې پروګرامونه پیل کړي.

## ۵. د بدلون د پلان تهیه کول:

ټول متعارف بانکونه باید د بدلون پلان ترتیب کړي. د بدلون پلان باید د غیر شرعي شتمنیو، پورونو، محصولاتو، خدماتو، پالیسیو او لارښوونو د بدلون لپاره روښانه کړنلار، پروسه او مهال ویش ولري او د بانک د نظار هیئت او شرعي بورډ له خوا تصویب شوی وي.

## ۶. د بدلون پلان د لاندې برخو څخه متشکل دی:

۱.۶ د بانک اړوند اړین معلومات:
۱.۱.۶ د بانک د سهم لرونکو ،د ګروپي شرکتونو او فرعي شرکتونو په اړه معلومات.
۲.۱.۶ د بانک د نظار هیئت او اجرایوي کلیدي غړو لنډې سوانح.
۳.۱.۶ د بانک د موجوده او وړاندیز شوي اداري جوړښت وړاندې کول.
۴.۱.۶ د موجوده اسلامی او متعارفو څانګو په اړه توضیحات.
۵.۱.۶ د بانک تفتیش شوي وروستي مالي راپورونه.
۶.۱.۶د بانک په تفاهم لیک او اساس نامه کې وړاندیز شوي تغیرات.

۲.۶ د شرعي اصولو سره په نقض کې د اقلامو وضعیت او د هغوی حل لارې
۱.۲.۶ د د شرعي اصولو سره په نقض کې د موجوده شتمنیو او پورونو وضعیت او د هغوی اړوند وړاندیز شوې شرعي حل لارې.
۲.۲.۶ د بیلانس شیت څخه بهر د شرعي اصولو سره په نقض کې د اقلامو موجوده حالت او دهغوی اړوند وړاندیز شوې شرعي حل لارې.
۳.۲.۶ د صعب الحصولو قرضو وضعیت او د هغوی شرعي حل لارې.
۴.۲.۶ دهغو عوایدو تفصیلات چې د شرعي اصولو سره په نقض کې دي او د هغوی شرعي حل لارې.
۵.۲.۶ د شرعي اصولو سره په نقض کې د تضمیناتو تفصیل او د هغوی اړوند وړاندیز شوې شرعي حل لارې.
۶.۲.۶ د شرعي اصولو سره په نقض کې د پانګونو تفصیلات لکه مبلغ، ماهیت، د انقضا نیټه، اداینه او داسې نور او د هغوی اړوند شرعي حل لارې.
۷.۲.۶ د افغانستان بانک سره د شرعي اصولو سره په نقض کې د تمویلاتو اړوند معلومات.
۸.۲.۶ د متعارفو معامله لرونکو بانکونو سره د اړیکو او د ناسترو او واسترو (Nostro/Vostro) د حسابونو معلومات او د هغوی وړاندیز شوې حل لارې.

۳.۶ روزنه او ظرفیت لوړونه
۱.۳.۶ د بانک د نظار هیئت، کلیدي اجراییوي غړو، د مرکزي دفتر او نورو کارمندانو د ظرفیت جوړونې، ترینینګ او روزنې په اړه د بانک ترتیبات او پلان.
۲.۳.۶ بانک باید د ظرفیت جوړونې او روزنې پروګرام د افغانستان د بانکي او مالي انستیتیوت ( AIBF) او یا د افغانستان بانک ته د منل شوو مشهورو روزنیزو ادارو سره په همغږۍ جوړ کړي.
۳.۳.۶ که درسي یا د زده کړو برنامې د بانک له خوا ترسره کیږي، بانک باید د اسلامي بانکدارۍ د ترینینګ پلان جزیات لکه د ترینینګ محتوا، روزنکي، تقسیم اوقات او نور دافغانستان بانک ته تسلیم کړي.

۴.۶ پالیسي، کړنلارې او محصولات
۱.۴.۶ د بانکي کړنو اړونده پالیسیو، کړنلارو او لارښودونو لیست
۲.۴.۶ د شرعي اصولو سره په نقض کې د ټولو مالي محصولاتو او خدماتو لیست او دهغوی د بدلون شرعي حل لارې.

۵.۶ سیسټم او کنټرول
۱.۵.۶ د بشپړه اسلامي بانکوالۍ د عملي کیدو لپاره، د ګټو ویشلو (Profit distribution)، د جمع شویو پانګو (Pool management) او داسې نورو بانکي چارو د مدیریت لپاره د بانکي سیستم، برنامو او کنترول شتون (Systems and applications)
۲.۵.۶ بانک باید د ټولو اړوندو اشخاصو (Stakeholders) د ګټو د خوندیتوب په موخه د مناسب بانکي سیستم او کنترول (Systems and control) د شتون څخه ډاډ ترلاسه کړي.
۳.۵.۶ د متعارفې بانکوالۍ څخه اسلامي بانکوالۍ ته د معلوماتي تکنالوژۍ د انتقال په اړه ترتیبات او پلان.

۶.۶ پلټنه او بیاکتنه: ( Audit and Review)

۱.۶.۶ د بدلون مخکې او وروسته، د بانکي عملیاتو د داخلي پلټنې دترسره کیدو په موخه هر اړخیز پلان.

۲.۶.۶ د بدلون د کمیټې په همغږۍ، د بدلون د پروسې څخه د منظمې شرعي کتنې پلان.

۷.۶ د عامه پوهاوي په اړه ترتیبات:

۱.۷.۶ د بدلون په اړه د عوامو او د بانک د اړوندو اشخاصو د خبرتیا لپاره د مستقیم تماس او د نورو چاپي او بریښنایي رسنیو له لارې د پلان شتون.

۲.۷.۶ د متعارفې بانکوالۍ له محصولاتو او خدماتو څخه اسلامي بانکوالۍ ته د بدلون لپاره د ملک دننه او بهر (د امکان په صورت کې) د مشتریانو د رضایت حاصلول.

۳.۷.۶ د هغو مشتریانو د شتمنیو او قرضو د تصفیې پلان چې د نویو شرایطو اوضوابطو په اساس له بانک سره د اړیکو دوام نه غواړي.

۸.۶ د بانک اړوند نور اړین معلومات:

۱.۸.۶ د کار کونکو لپاره د بانک د هغو امیتازاتو او تسهیلاتو بدلول چې د شرعي اصولو سره په نقض کې وي.

۲.۸.۶ د بانک د هغو فعالیتونو او قضیو په اړه معلومات چې شرعي حل لاري نلري.

۳.۸.۶ د ټولو هغو قضایاو لنډیز چې محاکمو ته وړل شوي دي.

## ۷. د افغانستان بانک اصولي موافقه

ټول متعارف بانکونه باید د بدلون پلان د اصولي موافقې د ترلاسه کیدو لپاره دافغانستان بانک ته وړاندې کړي.

۱.۷ د ا فغانستان بانک به د بانک وړاندیز شوی پلان د هغه د وړتیاوو په نظر کې نیولو سره ارزوي او د منلو په صورت کې به بانک ته د بدلون د لړۍ د پیل اصولي موافقه کوي.

۲.۷ د بدلون د طرحې د تصویب لپاه ممکن د افغانستان بانک د بانکونو د کیمل ( CAMEL) حالت په پام کې ونیسي.

## ۸. د بدلون د پلان پلي کول

د اصولي موافقې په ترلاسه کولو سره، بانک باید سمدلاسه د شرعي احکامو او اصولو سره سم د بدلون لړۍ پیل او د دوو (۲) کلونو په موده کې پای ته ورسوي.

۱.۸. بانک باید د ټولو اصلي دندو اړوند شرعي محصولات، پالیسۍ، کړنلارې او لارښودونه ترتیب او د شرعي هیئت او د نظار هیئت له خوا یې تائید کړي

۲.۸.هغه متعارف بانکونه چې د اسلامي بانکوالۍ کړکۍ یا اسلامي تابع شرکت لري، کولای شي د دوی پالیسیانې، کړنلارې، لارښودونه، محصولات او عملیاتي برخې راواخلي او پاتې نور موارد (که ضرورت وي) د شرعي اصولو سره عیار کړي.

۳.۸. بانک باید د موجوده شتمنیو او پورونو د بدلون لپاره شرعي محصولات تهیه او د بانک د شرعي بورډ د تصویب نه وروسته د افغانستان بانک د شرعي نظارتي بورډ د د تصویب لپاره راواستوي.

۴.۸. بانک باید هغه سیما کوونکو ته چې د حساباتو له انتقال سره موافق نه وي، دافغانستان بانک د متحدالمالونو او مقرراتو سره سم خپلې پیسې بیرته ورکړي.
۵.۸. بانک باید د خپلو فعالیتونو د ترسره کیدو او د نوو اسلامي تمویلاتو/ پورونو د ورکړې لپاه لازمې پیسې (فنډ/ وجوه) یوازې له شرعي لارو ترلاسه او خپلې کړنې د شرعي فعالیتونو پورې محدودې کړي.
۶.۸. بانک باید سود او نور غیر شرعي عواید د شرعي اصولو په رڼا کې تصفیه او د غیر شرعي معاملاتو د تصفیې لپاره زر تر زره (بې له ځنډه ) اقدام ترسره کړي.
۷.۸. بانک باید د صعب الحصول قرضو(NPLs) او د بیلانس شیټ څخه د حذف شویو اقلامو د تصفیې لپاره تعقیبي واحد رامنځ ته کړي.
۸.۸. د بانک د شرعي امورو آمریت باید په منظمه توګه د بدلون له پروسې څخه کتنه ترسره او د بدلون کمیټې په همغږۍ یې راپور چمتو کړي. راپور باید د بدلون پروسې تر بشپړیدو پورې په هرو دوه میاشتو کې شرعي بورډ، نظار هیئت او د افغانستان بانک ته وسپارل شي.
۹.۸. بانک باید په هرو دوه میاشتو کې د بدلون د پروسې د پرمختګ او اړوندو مسائلو راپور د بدلون د ټولې پروسې تر بشپړیدو پورې د اجراییوي رییس په لاسلیک د افغانستان بانک ته وسپاري.
۱۰.۸. بانک باید د بدلون د پروسې په اړه د مشتریانو پوښتنو ته د ځوابونو لپاره د معلوماتو دفتر جوړ کړي.
۱۱۰۸. بانکونه کولی شي د پالیسیو، محصولاتو په جوړولو کې یو له بل سره همغږي او مرسته وکړي او ګډ روزنېز او مشورتي خدمات ترتیب یا تنظیم کړي.
۱۲.۸. بانکونه د افغانستان بانک لخوا د اصولي موافقې څخه وروسته او د بشپړ اسلامي بانک د جواز اخیستو نه مخکې موده کې د شرعي هیئت تر تصویب وروسته کولای شي د خلکو سپماوې حصول او خپل مشتریان تمویل کړي.

**۹ . د بشپړ اسلامي بانکوالۍ د جواز صادرول**

۱.۹. د بدلون د پلان د بشپړ عملي کیدو وروسته، بانک کولای شي، افغانستان بانک ته د بشپړه اسلامي بانک د جواز د صادرولولپاره غوښتنلیک وړاندې کړي. د یاد غوښتنلیک سره باید لاندې اسناد ضمیمه وي:

۱.۱.۹ د بدلون د پلان د تطبیق هر اړخیز راپور چې د بانک د شرعي هیئت او د نظار هیئت لخوا تصویب شوی وي.

۲.۱.۹ د بانک تعدیل شوی تفاهم نامه (Memorandum of Understanding) او اساسنامه (Articles of Association) او ددې تعدیلاتو لنډ راپور.

۳.۱.۹ د بانک د شرعي هیئت او نظار هیئت له خوا د بانک د ټولو پالیسیو، کړنلارو، لارښودونو او محصولاتو د ترتیب/ تعدیل په اړه شرعي تصویب.

۲.۹ دافغانستان بانک به د اسنادو له کتنې وروسته او د قناعت په صورت کې، بانک ته نوی جواز صادر کړي. بانک باید د متعارفې بانکوالۍ جواز دافغانستان بانک ته تسلیم کړي.

**۱۰. متفرقه موارد**

۱.۱۰ که کومه ځانګړې مسئله په دې لارښود کې نه وي ذکر شوي، د ایوفي (AAOIFI) شپږم(۶) معیار باید عملي شي.

۲.۱۰ ددې سند له خاصو احکامو څخه معافیت هغه وخت جواز لري چې بانک د موضوع په هکله د شرعي هیئت مشوره او تصویب تر ګوتو او لازم دلایل او توجیهات ولري او د افغانستان بانک ته یې په رسمي توګه وړاندې کړي.

۳.۱۰ د دې لارښود په صادریدو سره د موضوع اړوند ټول مقررات او متحدالمالونه ملغی دي.

۴.۱۰ دغه لارښود دافغانستان بانک له خوا د صدور له نیټې څخه نافذ دی.